مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

۲۰۲۶/۰۷/۱۷

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو دیارلسمه برخه)

### غلام فاروق یعقوبي

له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۵ز کال پورې د دولتي اطلاعاتو د خدماتو/ خدمات اطلاعات دولتي «خاد» مرستیال رئیس. د ۱۹۸۵ز کال د دسمبر له ۷ نېټې وروسته د ډاکټر نجیب الله ځای ناستی او د خاد رئیس سو. د د دولتي امنیت/ امنیت دولتي وزیر. په ۱۹۸۶ز کال کې د مشخص وزارت له لرلو پرته د کابینې وزیر.

### کوهي سمنګاني یزدګِرد

په ۱۹۲۵ز کال کې د سمنګانو د صوف په درې کې زېږېدلی دئ. شاوخوا د ۵۵ کالو دئ. په ابیکو کې ئې د جومات په ښوونځي کې زده کړې کړي دي. د کابل د ښکلیو هنرونو لیسه کې ئې زده کړې کړي دي. پخواني پاداشاه محمد ظاهر په کې د انځوګرۍ وړتیا او استعداد ولید او کابل ته ئې راوغوښت. ښاري ژوند ئې خوښ نهٔ سو نو له دې کبله بېرته په سمنګانو کې خپل کلي ته ستون سو. په ولسي جرګې کې د صوف د درې استازی. د فردوسي د شاهنامې د صحنو انځورګري ئې کړې ده. په ۱۹۷۴ز کال کې ئې د ګویته د انستیتیوت په ننداړتون کې د خپلو انځورګریو ننداره وړاندې کړه.

**میر یزدان بخش** : وګورئ : یزدان بخش

**یونس خالص** : وګورئ : یونس خالص

### محمد نعیم یونسي

په ۱۹۱۵ز کال کې د محمدزیو په یوې کورنۍ کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د نجات په ښوونځي او پوځي اکاډیمۍ کې ئې زده کړې کړي دي. په افغان دیپلوماتیک مأموریت کې ئې په کراچۍ، انقرې، بغداد، پاریس (۱۹۵۱ز کال کې)، او قاهرې کې خدمت کړی دئ. د څلورم سیاسي ریاست مدیر. د باندنیو چارو په وزارت کې عمومي مدیر.په ۱۹۶۹ز کال کې په بیروت کې شارژدافیر. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په جدې کې سفیر. مورنۍ ژبه ئې دري ده؛ په انګلیسي، فرانسوي او ترکي هم خبرې کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

## غلام سرور يورش

د ننګرهار پروژې کارمند. د ۱۹۷۹ز کال د فبرورۍ له میاشتې تر دسمبر پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني. په ۱۹۸۰ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتو رئيس. د انقلابي شورى غړى. د باندینو چارو وزارت مرستيال وزير. د ختيځ زون بولندوى/ قوماندان.

**مير محمد يوسف** : وګورئ : مير محمد يوسف

## عبدالجليل يوسفي

خپل ليسانس ئې د کابل پوهنتون د اسلامي شرعياتو له پوهنځي او ماستري ئې د قاهرې د الازهر له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. د کابل پوهنتون استاد. د شرعياتو د پوهنځي رئيس.

## غلام رسول يوسفي

په ۱۹۸۰ز کال کې د زابل والي

## محمد قاسم يوسفي

د محمد هاشم زوى په ۱۹۵۱ز کال کې په ننګرهار کې زېږېدلى دئ. د ننګرهار په بهسودو کې د لومړني ښوونځي له بشپړولو وروسته په ۱۹۷۰ز کال کې د ننګرهار له ليسې څخه او په ۱۹۷۵ز کال کې د کابل پوهنتون د کرنې له پوهنځي څخه فارغ سو. په ۱۹۷۵ز کال کې د کابل پوهنتون د کرن - پوهنې يا اګرنومي مدرس. سويډن ته لاړ او خپله ماستري ئې په ۱۹۸۱ز کال کې د « وانيګن» [1] له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. کابل ته راستون سو او تر ۱۹۸۳ز کال پورې ئې د اوبو لګولو په رياست کې کار وکړ. پېښور ته لاړ او هلته د نړۍ والي ژغورنې د کمېټې يا د آى. آر. سي [2] مرستيال مدير سو.

## محمد ولي يوسفي

د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي رئيس. د لوړو زده کړو د وزارت مرستيال وزير. د ۱۹۸۰ز کال د جولاى په مياشت کې ووژل سو.

## ډاکټر نجيب يوسفي

په ۱۹۶۵ز کال کې د نجات له ليسې او په ۱۹۷۰ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه په ژورناليزم کې د ليسانس په درجې فارغ سوى دئ. جرمني ته لاړ او په ۱۹۷۷ز کال کې ئې خپله دکتورا د برلين له «فري يونيورستي» [3] څخه تر لاسه کړه. د کار د زده کړو دوره ئې د برلين د «برلين رايس» [4] راډيو سره او نورو خبري ميډيا سره تېره کړه. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پورې د راډيو افغانستان ژورناليست. د جرمن د پرمختيايي خدماتو [5] د پرسونل لپاره لارښود ښوونکى.

---

[1] - Wageningen
[2] -International Rescue Committee
[3] -Free University
[4] -RAIS –Bernlin (Radio)
[5] -German Development Service


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له ۱۹۷۹ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د کابل په ګویته انستیتیوت کې کارمند. له ۱۹۸۱ز کال راهیسې په لویدیځ جرمني کې د «شوبیش زایتونګ اولم»[6] د ورځپاڼې د تحریر د هیئت غړی. د یو شمېر آثارو مؤلف. له مېرمن سهیلا سره ئې وادهٔ کړی دئ. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## احمد یوسفزی

د «غوایي له پاڅون وروسته» د خلق د کتابتون مشر.

## ډاکټر باقي یوسفزی

«د ظاهر شاه د منجم، ستوروپوه او د ستور پوهنې د سلاکار» حبیب الله زوی په ۱۹۲۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۴۲ز کال کې د حبیبیې له لیسې او په ۱۹۴۶ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې ئې خپله ماستري په اقتصاد کې تر لاسه کړه؛ بله ماستري ئې په نړۍ وال معارف کې او دکتورا ئې په ۱۹۷۴ز کال کې د اندیانا له دولتي پوهنتون څخه د لوړو زده کړو په چارو کې تر لاسه کړه. په ۱۹۵۲ز کال کې د تجارت د لیسې مدیر. په ۱۹۵۳ز کال کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مدرس. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د کانونو او صنایعو په وزارت کې د کار د مدیریت مدیر «او همدلته ئې د کار د نړۍ وال سازمان په همکارۍ د افغانستان د کار اوسنی قانون تدوین کړ». د پلان په وزارت کې د احصائیې او تحقیق مدیر. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د افغانستان پر ملي عوایدو باندې د لومړنۍ مطالعې مرستیال مؤلف. په ۱۹۶۴ز کال کې د وردک والي؛ په ۱۹۶۶ز کال کې د بغلان والي. په ۱۹۷۳ز کال کې د اندیانا په پوهنتون کې د نړۍ وال او مقایسوي معارف ریسرچ اسیستانت. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د «نایجیریا ــ ژ » د «احمدو بلو د پوهنتون د اداري انستیتیوت»[7] استاد. د څو کتابونو او ګڼ شمېر مقالو لیکوال. د اولګا په نوم له یوې امریکایي مېرمنې سره ئې وادهٔ کړی دئ؛ اولګا د ۱۵ کالو لپاره د ملالۍ او زرغونې په لیسو کې تدریس کړی دئ. اوس له خپلې کورنۍ سره د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## فتح المُلک ننګ یوسفزی

دی د پېښور یو له پښتنو څخه دئ چې له ډیلې څخه افغانستان ته راتښتېدلی دئ. افغان تابعیت لري. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پکتیا د مجلې محرر. له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په ولسي جرګې کې د «خان آباد» د «دشتِ ارچي» د پښتنو استازی. یو پښتون نشنلیست. اوس په پېښور کې دئ.

## محمد نبي یوسفزی

«د غوایي له پاڅون وروسته» د معارف د وزارت د کتابتونو د ریاست رئیس.

## عبدالقادر ذبیح الله

د محمد صدیق زوی په ۱۹۵۱ز کال کې په مزار شریف کې زېږېدلی دئ. لومړنی او منځنی ښوونځی ئې په مزار شریف کې بشپړ کړي دي. د بلخ د لیسې ښوونکی، او له همدغهٔ ځایه ئې د «اخوانیانو ــ ژ» «جوانانِ مسلمان» ته لاره

[6] - Schwäbisch Zeitung Ulm

[7] -Institute of Administration, Ahmadu Bello University


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ومونډله. د غوايي له پاڅون وروسته پاکستان ته لاړ. په ۱۹۷۹ز کال کې بېرته هېواد ته راستون سو او لومړی ئي په بغلان او وروسته ئې په مزار شريف کې جګړه پيل کړه. قوماندان ذبيح الله د قوماندان مسعود په لاس روزل سوی وو. نومړی د ۱۹۸۴ز کال د نوامبر په ۱۱ نېټې داسي ووژل سو چي د جيپ موټر تر ټاير لاندې ئې ماين وچاودېد، دا ماين دولتي ځواکونو اېښی وو. د جمعيت اسلامي د تنظيم غړی وو. مورنۍ ژبه ئې دري وه.

## نور بيا

### عبدالمجيد زابلی

د مېرمن طاهري او محمد حکيم زوی په ۱۸۹۶ز کال کې په هرات کې زېږېدلی...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ